مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: بشرمل پسرلی

۲۰۲۴/۰۴/۳۰

# فدرالېزم: خيالي طرحه د تجزيې له ارمان سره
## ۳ برخه

ه- **کلتوري جګړې:** فدرالي ايالتونه د کلتوري فکتورونو او يا د جغرافي پربنسټ رامنځته کيږي، چې په هر حالت کې، ډېره شونتيا ده، چې په ايالتونو کې لږکي قومونه سره منظم شي او په ايالت کې د اکثريت قوم د برلاسي او ناروااوو پر وړاندې په مبارزه لاس پورې کړي، ځکه چې ځان ګواښ لاندې وي. که چېرې دا اختلافات شديد شي، فدرال دولت له ناخوالو سره مخامخوي. دا شونتيا ځکه په فدرال نظامونو کې ډېره ده، چې فدرالي فلسفه په همدې مسايلو راڅرخي.

و- **د ولسواکۍ پروړاندې خنډ:** هويتي تضادونه او شخړې، چې عصبيت او جنګ جګړې له ځان سره لري، له لېبرال او ولسواکو ازربنتونو سره په ټکر کې دي، ځکه ولسواک نظامونه په فردي او ټولنيزو حقوقو څرخي نه په نژاد او قومپالنې. همدا نژاد پالنه وه، چې نړيوالې جګړې رامنځته شوې او بشريت يې له لويو ننګونو سره مخ کړی و. له ديني پلوه تقوا، له ملي پلوه ملي ګټو ته ژمنتيا او د ولسواکۍ له پلوه پرمختيايي اجنډا ده، چې سياسيون سره تفکيک کيږي، خو په قومپالنه کې قومي تړاو تر هرڅه مهم وي، چې دا چاره د ولسواکۍ د پراختيا او بنسټيزه کېدو، قانون واکمنۍ او پرمختګ پر وړاندې لوی خنډونه رامنځته کوي.

ز- **د مرکزي فدرال حکومت د قوانينو او پالسيو پر وړاندې خنډ:** د فدرال دولتونو د اساسي قانون پر بنسټ، هر ايالت خپل اساسي قانون لري او کله چې د يوې ملي موضوع اړوند پرېکړه کيږي او يا هم قانون توشېح او تعديليږي، د ټولو ايالتونو هوکړه اړينه ده. د بېلګې په توګه، کله چې مرکزي دولت پرېکړه وکړي، چې په پېژند پاڼه کې دې ملي هويت تثبيت او وليکل شي، ډېره شونتيا شته چې ايالتونه ورسره هوکړه ونه کړي، ځکه ايالتونه خپلو محلي هويتونو ته لمړيتوب او ارزښت ورکوي او يا مرکزي فدرال حکومت د يو هېواد پر وړاندې متقابل سياست ته په کتو، يوه کړنلاره تر لاسه لاندې نيسي، خو که چېرې فدرال ايالت له هغه هېواد سره قومي، ژبنی او يا مذهبي تړاو ولري، د حکومت د کړنلارې پر وړاندې خنډونه رامنځته کوي، چې بېلګې يې په فدرال نظامونو کې کمې نه دي.

ح- **د نړيوالو کنوېنسونو د الحاق خنډونه:** د فدرالېزم پلويان داسې انګېرې، چې کله مرکزي فدرال حکومت پرېکړه وکړي، چې د يو نړيوال کنوېنسيون غړيتوب واخلي، دا شونتيا شته چې ځينې فدرال ايالتونه پخپل ايالت کې د کنوېنسيون د احکامو له پلي کولوڅخه ډډه وکړي او يا د مرکزي دولت دا پرېکړه ونه نګوي او يا هر ايالت خپل تفسير وړاندې کړي، چې دا وضعيت په هغو حالاتو کې ډېر صدق کوي، چې د فدرال ايالتونو او د مرکزي فدرال ترمنځ تضادونه زيات وي، چې ډېری وروسته پاتې هېوادونه له دې حالت سره مخامخ کېدی شي.

ط- **نانډولتوب او بې عدالتي:** د نا انډولتوب شتون په مختلفو فدرالي ايالتونو کې هغه څه دي، چې د فېډرېشن نظريه يې تر پوښتنو لاندې راوستې. کله چې د قدرت، دولتي او يا غېر دولتي بنسټونو، طبيعي زېرمو او انساني ظرفيتونو ترمنځ د يوه هېواد په بېلابېلوساحوکې تقارن موجود وي، بيا تر څه بريده فدرال ايالتونه پرمخ تللی شي او که داسې نه وي او عدم تقارن موجود وي، نو بيا هلته ده چې يو هېواد دفدرال ايالتونو په موجوديت کې د بدمرغۍ په لورځي. د بېلګې په توګه، د پاکستان پنجاب ايالت پراخې اباده ځمکې لري او د خوړو په برخه کې نسبتآ په ځان بسيا دی، خو نور ايالتونه يې له داسې طبيعي نعمتونو بې برخې دي، چې دې چارې په مختلفو پړاوونو کې د ايالتونو ترمنځ واټونه رامنځته کړي او بلوچستان طبيعي زېرمې لري، خو پنجاب يې پنجابيانو ته کاروي، چې دې چارې د بلوچستان د ازادۍ مزل لنډ کړی. د عراق کردستان سيمه له طبيعي پلوه غني ده، چې دې چارې حتا د عراق فدرالي نظام له ننګونې سره مخ کړی. ښه به وي چې د پرمختللو هېوادونو بېلګې هم وړاندې کړو. کله چې د امريکا متحده ايالاتو د واشنګټن فدرالي ايالت سړي سر کلنی عايد له ميسيسيپي فدرالي ايالت سره پرتله کړو، حتا ۶۰ سلنه توپير لري؛ په واشنګټن کې د سړي سر کلنی عايد ۶۰ زره امريکايي ډالر دی، خو په ميسيسيپي کې ۲۵


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

زره امریکایي ډالر. په ورته وخت کې، په بلجیم کې یو ایالت یې د ټولې اروپا په کچه تر ټولو لوړعاید لري، خو بل ایالت یې د اروپا په کچه ټیټ ترین عاید. له کله چې بلجیم فدرال نظام غوره کړی، هر کال د ایالتونو ترمنځ د ناانډولتوب واټن په زیاتېدو دی، حتا د یو ایالت د سړي سر کلنی عاید ۷۰ زره یورو دی ، خو د بل هغه یې تر ۲۸ زره یورو.

**ی- په اداري پروسو کې پېچلتیا:** د فدرال ایالتونو خپلواکي او قانوني واکونه په مختلفو ایالتونوکې د متفاوته سیستمونو او پروسو د رامنځته تګ سبب کېږي. دا چاره د یو هېواد عامه وګړو ته ډېرې ستونزې زېږوي. د ساري په توګه، که یوه کورنۍ له یوه ایالت څخه بل ایالت ته کډوالېږي، نو ماشومانویې چې د کوم نصاب پر بنسټ زده کړې کړې وي، هغه په بل ایالت کې نه وي. ددې پخواکې، د واکونو وېش، متفاوت سیستمونه او تقنیني او اداري سندونه ، د مرکزي فدرال او ایالتونو ترمنځ څارنه او اړیکې او حساب ورکونه هغه څه دي، چې عام ولس ته پرته له سرخوږي څخه بل څه نه په برخه کوي، په ځانګړې توګه په هغو ټولنو کې چې د لمړنیو زده کړو کچه یې ټیټه وي خو د فقر ګراف یې پورته.

**په افغانستان کې د فدرال غوښتونکو ناسم اټکلونه ( فرضې ) او خیالي طرحه**

په افغانستان کې قومي فدرال غوښتونکي په دې اند دي، چې سیاسي واک تل له پښتنو سره دی او د نورو قومونو د قومي هویت او ژبې د حذف په لټه کې و/دي او پښتنو سیاسي واکمنانو منابع په عادلانه توګه نه دي وېشلي او ټولنیز عدالت یې نه دی تامین کړی. ددوی په باور، د پښتنو د سیاسي واک د لمنځه وړو، دلږکیو قومي هویتونو د خوندیتوب، ملي مسلو د حلېدو او د ستم د له منځه وړوپه موخه، باید فدرال سیاسي نظام حاکم شي، ځکه چې فدرال سیاسي نظام د نړۍ په حاکمو سیاسي نظامونو کې غوره نظام دی او د افغانستان لپاره له فدرال سیاسي نظام څخه بل غوره انتخاب نشته. قومي فدرال غوښتونکي پدې ټینګارکوي، چې په بسیط ولسواک نظام کې د لږکیو (اقلیتونو) حقوق نه ورکول کېږي، نو همدا ده چې ملي وحدت نشي ټینګېدای، ځکه باید فدرال ایالتونه منځ ته راشي، چې نه یوازې په کثرت کې وحدت رامنځ کېږي، بلکې لږ ه کې له خپلو حقونو څخه برخمن کېږي.

د قومي فدرال غوښتونکو لمړۍ هڅه داوه، چې ځان له ستم لاندې وپېژني، ترڅو د خپلو اجنډاو د تحقق په پار، د قومي فدرالېزم هڅو ته د ځینو پام راواړوي، خو کله چې ځینې یې دې پایلې ته ورسېدل، چې په فدرال ایالتونو د افغان قومونو وېش ناشونی دی او افغانان له یو او بل سره اسلامي او افغاني وروولي لري او هم یې د سلګونو کلونو په ترڅ کې داسې ټولنیز جوړښت رامنځته کړی، چې د قومي نفاق هڅې په نطفه کې خنثا کوي، بیا یې د جغرافیه وي فدرالېزم ډنډورې پیل کړې، چې دې طرحو یې هم بازار و نه موند، بیا ځینو ارماني هغو یې د فدرالېزم لېبرال ماهیت بیانونه پیل کړل، چې تر ننه پورې په بهرنیو حلقو کې ځان لېبرال او سېکولر معرفي کوي او نړیوالو ته د فدرال تر چتر لاندې د یو بشرپاله ټولنې طرحې وړاندې کوي، ترڅو له دې لارې وشي کولی خپلې موخې ترلاسه کړي.

له شک پرته افغانستان وروسته پاتې او دودیز هېواد دی، چې په یو ډول نه یو ډول د هېواد په ټولو سیمو کې افغانان ځورول شوي، در په دره شوي، رټل شوي او حتا د ژوند له لمړنیو اسانتیاو بې برخې او له سیاسي او اقتصادي ډګره لرې پاتې شوي. تر څه بریده سیاسي واک په بې عدالتۍ، فساد او ځان پالنې پرمخ تللی. له هغه ځایه چې افغانستان د مختلفو لاملونو په سبب یو ناکام او وروسته پاتې هېواد پاتې شوی، د ولسواکۍ، فردي ازادۍ، قانون واکمنۍ، عدالت او ښې حکومتولۍ پر ځای فقر، بېکارۍ، ناروغیو، زورواکۍ، جنګ سالارۍ او ځان پالنې واکمنې کړې، چې په ترڅ کې یې افغان ورونه قومونه په یو نه یو ډول د ناهیلۍ، غوسې، او بغض ښکار شوي. هر افغان او افغان قوم فکر کوي، چې نسبت بل افغان ته یې په حق ډېر ظلم شوی.

د ټولو ناخوالو په شتون کې، په دې اند به کوم افغان پیدا نه شي، چې د بل افغان پر وړاندې دې د قومي، مذهبي یا ژبني انګېزو پر بنسټ وسله پورته کړې وي، د نوي افغانستان په تاریخ کې داسې کوم معتبر سند نشته، چې دا ثابته کړي، چې په افغانستان کې جګړې یا ناخوالو قومي، ژبنی او یا مذهبي رنګ درلود. هېڅ افغان په دې باور نه دی، چې افغانستان دې یوه متجانسه ټولنه شي او واړه هویتونه دې حذف او له منځه ولاړ شي او نه هم د نوي افغانستان په تاریخ کې داسې کومه پېښه شوې، خو هر کله چې کوم ځان یا بل پالونکي د نفاق هڅې کړي، د ولس له لوري منفور شوي. په تېر جمهوري نظام کې، چې لږ تر لږه یې د ولسواکۍ تمثیل کولو، ډېرو ته دا هیلې پیدا شوې، چې افغانستان به پرمخ ځي او د افغان ورونو قومونو د ډېرو ځوانانو سره دا فکر پیدا شوی و، چې یوه ورځ به د افغانستان جمهور رییس کېږي، خو نظام چې نه له قومي اړخه وه او نه هم د بسیط متمرکز سیاسي نظام د پایلې له امله، نسکور شو، په ځانګړې توګه د ښځو او ځوانانو ټوکېدلې هیلې مړاوې او ورژېدې.

د قومي فدرال غوښتونکو اټکلونه او د حل خیالي لارې په لاندې درې سرلیکونو کې تر لا بحث لاندې نیسو:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**الف- کلتوري ( قومي، ژبنی او مذهبي ):** افغانستان نه مصنوعي هېواد دی او نه هم افغان ملت مصنوعي ملت دی، بلکې افغانستان او افغان ملت په طبيعي لحاظه له زرګونو کلونو راپدېخوا په دې جغرافيه کې ژوند کړی او د هر يرغلګر پر وړاندې يو موټی دی. د افغانستان ټولنيز، اقتصادي، تاريخي او ديني ارزښتونو، جوړښتونو او شرايطو افغان قومونه داسې سره پېيلي، چې ماتول او جلاکول يې ناشونې دي. افغان ملت يو مسلمان ملت دی او له قومي او مذهبي پلوه هم اکثريت لري او هم اقليتونه، خو افغانستان، افغانيت او اسلاميت د اکثريت او اقليت مفکورې په يو ملت او نه ټوټه کېدونکي دولت اړولي. که چېرې داسې نه وی، دا هېواد به په دومره سيالانو کې د نړۍ له نقشې څخه ډېر وړاندې محو شوی و.

دا چې قومي فدرال غوښتونکي د افغانستان تنوع ته کله د قومونو موزاييک او کله د قومونو کنجيه وايي، دې کې ستونزه نشته، خو دا چې دوی تل هڅه کوي، چې افغانستان نړيوالو ته د نړۍ په کچه يو ډېر متنوع هېواد وپېژني، ترڅو خپلي اجنداوې پرمخ يوسي، د شک خبره ده. د اکثريت پښتون افغان وروسته په ترتيب تاجک، هزاره اود اوزبک افغانانو سلنې له کلتوري پلوه او په سياسي دګر کې د بحث وړ دي. په ټوله کې له پښتو او دري ژبو وروسته اوزبکي د هېواد لويه ژبه ده او نورې ژبې ، لکه نورستاني، پشه يي،بلوڅي، پاميري او داسې نورې خوړې ژبې هم د افغانستان د کلتوري ښکلا برخې دي، خو ددې خوړوژبوحتا يو ويونکی هم په نظر نه راځي، چې د ژبې د خونديتوب په موخه د فدرال کاذبه هڅه پيل کړي.

د ملت کلاسيک تعريف په خپل ځای نه دی پاتې، چې ژبه يې بنسټيزه ځانګړنه وه، بلکې د عصر له غوښتنو سره سم، هره هغه ټولګه، چې په يوه جغرافيه کې ژوند کوي، ګډ تاريخ، وطن، برخليک او ټولنيزارزښتونه ولري، درد او خوښي يې شريکې وي، ملت ګڼل کيږي، لکه افغان ملت چې په يوه کښتۍ کې ناست دی، که کښتۍ ډوبه شوې، ټول ډوب شوي او که کښتۍ ساحل ته وتې، ټولو د ارامۍ ساه اخيستې. د بېلګې په توګه، کله چې د يوويشتمې پېړۍ په پيل کې افغانستان د ولسواکۍ، د قانون د واکمنۍ او پرمختګ خاپوړې پيل کړې، د هېواد په ټولو قومونو او مذاهبو کې مثبته وينه په حرکت راغله، خو له کله چې حالات بدل شول، ټول يو ډول درد احساسوي. که چېرې يو ملت په ژبه منحصر وی، اوس به ټول عرب هېوادونه يو دولت وی او ټول انګليسي ژبي هېوادونه بل دولت، خو دا د نړۍ واقعيت نه دی او نه هم د سوکاله ټولنې راز دی. ملتونه يوازې په ژبو نه دي جوړ شوي، بلکې ډېری ملتونه ولسواکو او هېواد پالنې ارزښتونو ته ژمنتيا او تحقق د خپلو ملتونو اساسي ځانګړتياوې په ګوته کوي، لکه انګلستان او د امريکا متحده ايالات چېرې چې يوازې قومي، ژبني او مذهبي هويتونه د بحث وړ ندي بلکې فردي ازادي او مسوول حکومت لرل يې هويت جوړوي. له شک پرته د هويتونو په رسميت پېژندل او درناوی يې لازمي امر دی، خو په هويتونو افراطي ټينګار عصبيت دی، چې نه په دين کې ځای لري او نه هم په لبېرال سياسي ايډيالوژۍ او بشري حقونو کې.

کله چې موږ د مختلفو هويتونو خبر کوو، جنسيتي، ښاري او کليوالي، کمونېستي، لبېرال، اسلامي، سېکولرستي، نېشنلستي او سنتي قبيلوي هويتونه هم له پامه نه شي غورځېدي. د بېلګې په توګه: کله چې د قومونو په هويتي مشاجرو بحثونه روان وي، ډېری افغانانو ته دا بحثونه له اسلامي، افغاني او انساني ارزښتونو سره په ټکر راځي او نفع کوي يې. په ورته وخت کې کله چې د ولسواکۍ خبرې کيږي، ډېری قبيلوي او سنتي سياسيونو او محافظه کاروته دا هڅې غربي ارزښتونه ښکاري او پر وړاندې يې حساس دي او کله چې يو افغان ملت پال ته دا نورې ايډيالوژۍ وړاندې کيږي، بهرنۍ توطيې يې ګڼي.

په جبري ډول له قومونو ملتونه جوړول او يا د وړو قومونو ژبې له منځه وړل او د اکثريت قوم ژبنيز هژموني رامنځته کول، تاريخ ته سپارل شوي. يوويشتمه پېړۍ د ولسواکۍ، بشري حقونو او د فردي ازاديو پېړۍ ده. قومي حذف او د قومونو هويتي ادغام نه په انسانيت کې شته، نه په اسلام کې او نه هم د افغانانو کار دی، خو که د تاريخ پاڼې واړول شي، ډېری پرمختللو او ولسواکو هېوادونو د دولت او ملت جوړونې په مختلفو پړاونو کې قومي ادغام کړی او يو واحد ملي هويت يې رامنځته کړی. په نورو ډېری هېوادونو کې د ادغام پروسې پيل شوي او حتا اوس هم د نړۍ لوی سياستپوهان پرمختللو ولسواکو هېوادونو ته د ادغام وړانديزونه کوي، خو له نېکه مرغه افغانستان له دې چارې په امن دی. د غربي پرمختللو او ولسواکو دولتونو رامنځته تګ له مختلفو پړاوونو څخه تېر شوی. لومړی دولت رامنځته شوی، بيا ملي ټولنه رامنځته شوې، اقتصادي هلې ځلې او بيا ولسواکۍ او بشري حقونو سر راپورته کړی. حتا د شلمې پېړۍ تر نيمايي ډېری غربي دولتونو کې نژادي او جنسيتي توپيرونه او تعصبونه موجود وو. د افغانستان په معاصر تاريخ کې داسې کومه بېلګه نشته، چې حکومتونو دې قومونه د قومي انګېزې له امله په سيستماتيک ډول قتل عام کړې وي او يا يې له داسې جبر څخه کار اخيستی وي، چې غير پښتانه افغان قومونه يې د پښتو ژبې زده کړې او د خپلې مورنۍ ژبې پرېښودو ته اړ شوي وي. له نېکه مرغه په افغان ټولنه کې داسې هېڅ کومه بېلګه نشته، چې ولسونه دې لکه د ځينې نورو ټولنو د ولسونو په څېر له يو او بل څخه واټن ولري.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

په افغانستان کې د قومونو حذف او د حذف ابزار، چې ټول وژنه، جبري تبعید یا ادغام دی، هېڅکله  پلي شوي نه دي او نه هم ژبنی او قومي هژموني واکمنولو نښې شته او یا دا چې قومونه په داسې ساحو وېشل شوي وي، چې د حذف زمنیه یې مساعده شوې وي. د امیر عبدالرحمن خان موضوع د قوم نه وه بلکې د واک پر سر او د ملک الطوایفي له منځه وړل و، چې په ترڅ کې یې کله منارونه په هزاره جاتو، زابل، مومندو، شینوارو او کندهار کې رامنځته کړل. تاسو د حبیب الله کلکاني وضعیت وګورئ، د غزني سلېمانخېلو د کلکاني مرستې ته دانګلي، خو بل لور ته په زرګونه هزاره ګان د امان الله خان ملاتړ او مرستې ته چمتو شوي. که چېرې نادر خان کلکاني ادعام کړی، د امان الله خان ریښې یې هم ویستې، ترڅو خپل ځواک او واک تلپاتې کړي. دا باید هم په یاد وساتو، که چېرې د اوسنیو سیاستونو بنسټ تاریخي پېښې وګرځي، ټول به د ټولو دښمنان وي او هم به د نړۍ کوم دوست هېواد پیدا نه شي، ځکه خو له تېر درس اخیستنه او د راتلونکي روښانه بنسټ ایښودنه ده، چې د نړۍ د پرمختللو ملتونو د سیاست کرښې ټاکي. که موږ سل یا دوه سوه کاله وړاندې پېښې په پام کې نیسو او د هغو پر بنسټ په نننې عصر کې د فډرال لاملونه څېړو، له واقعیت، منطق او له اوسنیو شرایطو او له روښانه راتلونکي تېښته ده.
پښتنو او یا د واک پښتنو صاحبانو نه یوازې دا، چې د دري د حذف کوښښونه یې نه دي کړي، بلکې دري یې پاللې، نازولې او عامه کړې ده، خو کله چې پښتون پخپله مورنۍ ژبه لیک لوست کړی، په تعصب یا د نورو ژبو په حذف تورن شوی. ځینې قومي فډرال غوښتوکي به په دې اند وي، چې دري ژبه یا ددوی په اصطلاح فارسي د ټول هېواد او د ټولې سیمې ژبه ده، حتا د درې فارسي ژبو ( ایران، افغانستان او تاجکستان ) هېوادونو پروګرامونه هم پیل شوي وو او د افغانستان ژبې په ځانګړې توګه اوزبکي او نورې ژبې یې تل له پامه غورځولې. د افغانستان پښتنو شاهانو تل دري د دربار ژبه ساتلې او حکومتونو د دفتر او رسمیاتو ژبې په توګه یې پاللې. که چېرې د افغانستان ډېری پوهنتونو ته سر ور ښکاره کړئ، درسونه او لکچرونه به یې په دري ژبه وي او حتا ډېرو پښتنو پوهانو او لیکوالانو د دري ژبې په غني کېدو کې رغنده رول لوبولی. ان داسې حالت هم راغلی چې پښتانه افغانان لکه اوزبک افغانان پښتنو ته پښتو ژبه غوړاي، څرنګه چې اوزبک افغانان یې اوزبکانو ته غواړي، خو د ژبې د محرومیت زمزمې هغه ډېرې کوي، چې ژبه یې هم رسمي ده او هم اداري، خو په دې حالت قناعت نکوي، بلکې ژبنی تعصب د وسلې په توګه کاروي ، ترڅو فډرالېزم ته لار پرانیزي، خو دا له یاده باسي، چې کله اوزبک افغانان په اوزبکي خوږه ژبه او پښتانه افغانان په پښتو لیک لوست وکړي او پخپله کاري ساحه کې یې وکاروي، په خوږې دري ژبې به فضا ډېره تنګه شي. ددې ګواښونو د مخنیوي او د وړو ژبو د پاللو او وده ورکولو په پار، یوازې بسیط ولسواک نظام کولی شي، د بشري حقوقو د اصولو په چوکاټ کې د افغانستان ټولې ژبې چې د هېواد کلتوري ښکلا ده، وپالي او وده ورته ورکړي.
د افغانستان د ۱۳۰۱ لمړني اساسي قانون نه تر ۱۳۸۲ کال اساسي قانون پورې، داسې کوم سند نشته چې دري ژبه په کې له پامه غورځول شوې وي، خو اوزبکي او داسې نورو مروجو ژبو ته د حالاتو په پام کې نیول سره، لازم تدابیر نه دي نیول شوي، خو دا موضوع د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون، چې تقریباً ټول منلی و، د قومونو او ژبو تعدد او رنګارنګي یې په رسمیت پېژندلې او د ژبو په وده یې حکومت مکلف کړی و، خو له هغه ځایه چې وضعیت عادي نه و او جنګ جګړې، د زورواکو واکمني، ضعیفه حکومتولۍ، فساد او د حکومتي مشرانو غیر هېوادنیو کړنو حالت ته مثبت بدلون ور نه کړ، د هېواد ژبو ته هم لازم کار ونه شو.
ترکومه چې د مذهب خبر ده، تقریباً ټول افغانان سُني یا شعیه مسلمانان دي. په شاهي نظامونو، کمونیستي رژیم او په جمهوریتونو کې د سُني او شعیه ترمنځ کرښې راکښل د بحث موضوع نه وه او ددې دورو چارواکي هم کوم سخت دریځه ملایان نه ول، بلکې د مذهبي سختدریځۍ پر وړاندې یې قدم پورته کړی. کله چې موږ د ولسواک نظام تجربې پیل کړې، د افغانستان دواړه مذهبونه په رسمیت وپېژندل شول او په قانوني او ولسي ډول هېڅ ډول تعصب د شعیه پروړاندې ندی ترسره شوی. که چېرې موږ د ولسواکۍ تجربه پخه کړې وی، تنوع ته به هم ورځ تر بلې درناوی ډېر شوی وی. کومې تروریستي پېښې چې په دې وروستیو کې د شعیه افغانانو پر وړاندې تر سره شوي، نه له بسیط نظام سره تړلې دي او نه هم کوم قوم یا ژبې سره بلکې له بهره راغلې دیني افراطیان او تروریستان دي، چې له بده مرغه د مذهب جګړه نه یوازې په افغانستان بلکې په سیمه او نړۍ کې په وحشیانه ډول پر مخ بیایي.

نور بیا
**کله چې په افغانستان کې د قومي او ژبني...**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ